قرآني بيان

# د مقامِ اِبراهيم فضيلتونه





د مدني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه امام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

په 22 مئي، کال 2026ء (متوقع اسلامي تاريخ: 4 ذو الحج شريف، کال 1447ھ)
د جُمعةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 22 مئي، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 4 ذو الحج شريف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د مقامِ اِبراهيم فضيلتونه

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د حج سفر او د اِسلام مزاج
- اوښ طواف اوکړو (واقعه)
- مقامِ اِبراهيم څهٔ دې؟
- مقامِ اِبراهيم شِفا ورکوونکے دے

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بياناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ:

حُجُّوا الۡفَرَائِضَ فَاِنَّهَا اَعۡظَمُ اَجۡرًا مِنۡ عِشۡرِيۡنَ غَزۡوَةً فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ فَاِنَّ الصَّلَاةَ عَلَيَّ تَعۡدِلُ ذَا كُلَّهٗ۔

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: فرض حج کوئ، بے شکه د دې اَجر په 20 غَزاګانو کښې د شرکت کولو نه زيات دے او په ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک لوستل د دې برابر دے۔ (1)

بِالۡيَقِيۡں سب سے اَفضل و اَعلیٰ | ذِکرِ شاہِ اُمَم درود و سلام
طَاعَتَيۡں سب اِسی سے ہیں مَقۡبُول | طاعتوں میں اَتم درود و سلام

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! 　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... مسند الفردوس، باب الحاء، جلد:2، صفحه:130، حديث:2662۔

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْكَرِيْم (الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

وَاِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ؕ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ

(پاره: 1، سورهٔ البقرة: 125)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صلّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او (ياد کړه) چې کله مونږه دا کور د خلقو د پاره د رجوع ځائے او امان جوړ کړو او (اے مسلمانانو!) تاسو د اِبراهيم د ودريدلو ځائے د نـمانځه مقام جوړ کړئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# شرف مجھ کو ہر سال حج کا خُدا دے

# [اے خُدايه ما ته هر کال د حج کولو سعادت رانصيب کړې]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د حج ورځې رواني دي، خوش قِسمته دي هٰغه خلق د کومو چې پهٔ سږني کال د حج پيغام نصيب شوے دے۔ الله پاک دې پهٔ هٰغه خوش قِسمتو کښې زمونږه نومونه هم شامل کړي، کاش چې زمونږه هم پهٔ راتلونکي کال کښې د حج کولو، د طواف او سَعي، د وقوفِ عرفات او مزدلفې سعادت نصيب شي، کاش چې هر کال مو د مکے مکرمې او د مدينے منورې پهٔ ادب سره حاضري نصيب شي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

شرف مجھ کو ہر سال حج کا خُدا دے | مدینہ بھی ہر بار مولیٰ دِکھا دے
شرف دیدِ کعبہ کا دیدے اِلٰہی! | مجھے سبز گنبد کا جلوہ دِکھا دے

عِبَادت میں لگ جائے دِل یااِلٰہی! | مرے دِل سے غفلت کا پردہ ہٹا دے
سِیَہ ہے مرا سارا اَعمال نامہ | اِلٰہی! سیاہی تُو اِس کی مٹا دے[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د حج سفر او د اِسلام مزاج

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حج د نورو ټولو اِسلامي عبادتونو نه يو جُدا عبادت دے- د دې مقدس عبادت په خاصيتونو کښې يو خاصيت دا دے چې په دې کښې د اِظهارِ عشق غلبه ده او دا د اسلام مزاج هم دے چې په اِنسان باندې د الله پاک محبت غالب وي- ډاکټر اِقبال وئيلي وو:

گُزر جا عقل سے آگے کہ یہ نُور | چراغِ راہ ہے منزل نہیں ہے[2]

يعنې چې کله انسان د عقل د حدونو نه تير شي او د عشق منزل ته ورسيږي، نو هله د اِسلام رُوحِ، د دِين رُوحِ او د اِيمان رُوح ته رسيږي او هم دا هغه خيز دے کوم چې مونږ ته په حج کښې په نظر راځي- تاسو وګورئ چې ◈ نـمونځ ډير افضل عبادت دے، په اخرت کښې به چې د نـمونځ کوم ثواب ميلاوېږي، هغه په خپل ځائے باندې دے خو د دې سره سره د نـمونځ طِبي فائدې هم دي، په دې کښې سائنسي حکمتونه هم موجود دي خو د طواف کولو په ظاهري توګه څۀ سائنسي حکمت په نظر نۀ راځي ◈ روژه عبادت

[1]…وسائلِ فردوس، صفحه:54 ملتقطًا-

[2]…کلیاتِ اقبال، بالِ جبريل، صفحه:409-

دے، د دې ثواب هم ډېر زيات دے، د دې فضيلتونه هم ډېر دي، د دې سره سره د دې طِبي او سائنسي فائدې هم بے شميره دي خو د رَمئ جَمَرات (يعنې د شيطانانو په کاڼو د ويشتو) په ظاهره څۀ حکمت پۀ نظر نۀ راځي ◈ د زکوٰة ورکولو ډيرې زياتې معاشرتي فائدې موجودې دي خو د عرفات پۀ ميدان کښې د ايساريدو سائنسي حکمتونه به څۀ وي؟ په ظاهره پرې اِنسان نۀ پوهيږي، د وينا مقصد دا دے چې پۀ نورو عبادتونو کښې د اخرت د فائدو سره سره سائنسي فائدې هم موجودې دي، عقل هم تقاضا کوي چې ◈ مونږ له اودس کول پکار دي ◈ نـمونځ کول پکـار دي ◈ زکوٰة ورکول پکـار دي ◈ روژه نيول پکـار دي، ځومره غير مسلمه دي کوم چې د عبادت پۀ توګه نۀ بلکې د علاج د پاره اودس کوي، ځومره غير مسلمه دي کوم چې زکوٰة اګر چې نۀ ورکوي خو غريبانو له مال ورکوي، ځومره غير مسلمه دي کوم چې د عبادت پۀ توګه نۀ بلکې د علاج د پاره ډائټنګ کوي خو حج هغه ځانګړے عبادت دے چرته چې د عقل تقاضې ختميږي او د عشق تقاضې شروع کيږي- حج سراسر عشق دے ◈ ښه ډير مالداره ◈ د زرګونو روپو جامې اغوستونکي ◈ پۀ هيئر سټائل باندې پۀ زرګونو روپۍ لګوونکي ◈ دوه نا ګنډلې څادرې اچولې وي او کله د کعبې طواف کوي ◈ کله د صفا او مروه چکرې لګوي ◈ کله د عرفات ميدان ته ځي ◈ کله شيطانان پۀ کاڼو وَلي او ◈ پۀ اخره کښې سرونه خريوي- دا څۀ دي؟ دا د عشق اِظهار دے، دا د خپل رَبّ سره، د خپل خالق او د مالک سره د محبت اِظهار دے- حج له پۀ تللو اِنسان پۀ خپل عمل د دې خبرې اِعلان کوي چې دا زۀ د عقل غلام نۀ يم، زۀ د خپل رَبّ، د خپل محبوب نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هره خبره کښې د اخوا ديځوا کولو نه بغير د زړۀ نه منونکے يم او **هم دا د اِسلام مزاج دے-**

حِکمتونه پهٔ خپل ځائے خو د اِسلام اصلي مزاج هم دا دے چې اِنسان خپل سوچونه، خپل عقلونه، خپل خواهشات ختم کړي او د خپل رَبّ فرمان ته سر ټيټ کړي-

دغه شان دا هم د اِسلام د مزاج حصه ده چې اِسلام مونږ ته د بزرګانو سره تړون راښائي- يعنې چې اِنسان د خپلو بزرګانو، د الله پاک د نيکانو بندګانو، د نبيانو او د وليانو با اَدبه اوسي، د هغوئي محبت پهٔ خپل زړهٔ کښې ځائے کړي او د هغوئي سره خپل رُوحاني تعلق مضبوط کړي، دا خبره هم د اِسلام پهٔ مزاج کښې شامله ده- تاسو وګورئ چې د قرآنِ کريم هم وړومبی صفحه ده، هم وړومبے سُورت دے، مونږ يې روزانه پهٔ نمونځ کښې لولو، الله پاک د صِراطِ مُستَقِيم [يعنې د نيغې لارې] پيژندنه بيان کړې ، اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ<br>(پاره: 1، سورۀ الفاتحه: 6) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: د هغه خلقو پهٔ لار چې تا پرې اِحسان کړے دے- |

د دې نه اندازه ولګوئ چې مونږ ته اِسلام د نيکانو خلقو پهٔ لاره باندې د تللو د کوم حده پورې دَرس راکوي، د دې پورې چې صفا يې وفرمائيل چې نيغه لاره هم هغه ده کومه چې د نيکانو خلقو لاره ده، کومه چې د دِين د بزرګانو لاره ده، کومه چې د نبيانو او د وليانو لاره ده، د دې نه پهٔ لرې کيدو تلونکے بے لارې کيدے خو شي خو هدايت نشي موندلے-

## د اِيمان د ټولو نه مضبوطه رَسۍ

د حضرت براء بن عازب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، فرمائي: يو ځل مونږ پهٔ دربارِ رسالت کښې حاضر وو، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږ نه يوه پوښتنه اوکړه، وه يې

فرمائيل: اَیُّ عُرَی الۡاِیۡمَانِ اَوۡثَقُ يعنې اے زما صحابؤ! ووايئ چې! د اِيمان د ټولو نه مضبوطه رسۍ کومه ده؟

بيا صحابۀ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان د خپل خپل سوچ مطابق جوابونه ورکول شروع کړل، چا عرض اوکړو: نـمونځ- وه يـې فرمائيل: نـمونځ بهترين عبادت دے خو زما د سوال جواب دا نۀ دے، چا عرض اوکړو: روژه- وه يـې فرمائيل: روژه بهترين عبادت دے خو زما د سوال جواب دا نۀ دے- چا ووئيل: د اللّٰه پاک پۀ لار کښې جنګ کول- وه يـې فرمائيل: ډير اعلیٰ عبادت دے خو زما د سوال جواب دا نۀ دے- بيا رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم پخپله وفرمائيل: اَوۡثَقُ عُرَی الۡاِیۡمَانِ اَلۡحُبُّ فِی اللّٰہِ يعنې د اِيمان د ټولو نه مضبوطه رسۍ د اللّٰه پاک د رضا د پاره محبت کول دي- (1)

اَللّٰہُ اَکۡبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دے د اِسلام مزاج---!! د اللّٰه پاک د نيکانو بندګانو، د نبيانو او د وليانو سره محبت کول د اِيمان د ټولو نه مضبوطه رسۍ ده-

معلومه شوه چې د اللّٰه پاک د نيکانو بندګانو محبت زړۀ ته کوزول، د هغوئي سره خپل رُوحاني تعلق د مضبوط نه مضبوط جوړول، دا د اِسلام مزاج دے او حج هُغه عظيم عبادت دے کوم چې د شروع نه تر اخره پورې د اللّٰه پاک د نيکانو بندګانو پۀ ياد باندې مشتمل دے ◈ کعبه شريفه حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلَام جوړه کړې، د دې طواف کولے شي ◈ حجرِ اَسود حضرت آدم عَلَیۡہِ السَّلَام د جَنَّت نه راوړے وو، دا ښکلولے کيږي ◈ د

---

1 ... مسند ابی داؤد طیالسی، البراء بن عازب، جلد:2، صفحه:110، حدیث:783۔

صفا او مروه پۀ سعي کښې د حضرت هاجره رَحْمَةُاللهِ عَلَيْها د منډو ياد دے ◈ پۀ منیٰ کښې قُرباني کولے شي، دا د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د قُربانۍ ياد دے ◈ جَمَرات پۀ کاڼو ويشتلے کيږي، دا د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ياد دے- غرض دا چې د الله پاک د نيکانو بندګانو، د نبيانو او د وليانو د مختلفو يادونو د ادا کولو نوم حج دے-

## د آيت مبارک خُلاصه

مونږ د بيان پۀ شروع کښې د وړومبۍ سيپارې، د سورۀ بقره د آيت: 125 د څۀ حصې د اوريدو سعادت حاصل کړو، پۀ دې آيت مبارک کښې د اِسلام د دې مزاج ذِکر شوے دے- الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَ اَمْنًا ؕ وَ اتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ (پاره: 1، سورۀ البقرة: 125) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او (ياد کړه) چې کله مونږه دا کور د خلقو د پاره د رجوع ځائے او امان جوړ کړو او (اے مسلمانانو!) تاسو د اِبراهيم د ودريدلو ځائے د نمانځه مقام جوړ کړئ- |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ دې آيت مبارک کښې دوه خبرې بيان شوې:

## (1): د کعبې شريفې فضيلتونه

پۀ وړومبي نمبر باندې د کعبې شريفې فضيلتونه بيان شول او د دې دوه خاصيتونه بيان شول: (1): کعبه شريفه د خلقو د پاره مَرجع يعنې د ورګرځيدو ځائے دے (2): کعبه شريفه د اَمن ځائے دے-

## د کعبې شریفې طرف ته زړونه مائله دي

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي: ◈ دې ځائے ته د ټول جهان خلق راجمع کیږي ◈ ځوک چې یو ځل دغه ځائے ته لاړ شي، هغه بیا بیا تلل غواړي، د لارې د مصیبتونو پروا نۀ کوي ◈ ځوک چې د دُنیائي مشغلو نه فارغ شي او پۀ خپل اخري عمر کښې قدم کیږدي نو د الله، الله کولو د پاره کعبې شریفې ته د تللو کوشش کوي ◈ هُغه انبیائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام د کومو پۀ قومونو باندې چې عذاب راغلل ، هغوئي به د خپل قوم د هلاکیدو نه پس عام طور دلته تشریف راوړلو او د اخره پورې به هم دلته تشریف فرما اوسیدل ◈ د هر ځائے نه مسلمانان دې طرف ته مخ کوي او نـمونځ کوي ◈ دغه شان که هر مسلمان هر چرته هم مړ شي، پۀ قبر کښې د هغۀ مخ د کعبې شریفې طرف ته کولے شي- لهذا معلومه شوه چې کعبه شریفه **مَرجِع خَلَائِق** (یعني عظیمه زیارت گاه او د خلقو د گرځیدو ځائے) دے- [1]

## اوښ طواف اوکړو

علمائے کرام فرمائي: د کعبې شریفې پۀ خاصیتونو کښې یو خاصیت دا هم دے چې د کله نه کعبه شریفه جوړه کړے شوې ده، د هُغه وخت نه د اوسه پورې د طواف کوونکو نه خالي شوې نۀ ده ، هر وخت اِنسانان، پیریان یا فرښتے د دې طواف کوي- د دې پورې چې د حضرت عبد الله بن زُبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت پۀ دور کښې هم چې کله حجاج بن

[1]... تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:125، جلد:1، صفحه:708۔

یوسُف پهٔ کعبه شریفه باندې حمله اوکړه، پهٔ هُغه ورځ پهٔ عینِ حرمِ پاک کښې د طواف پهٔ ځائے باندې کاڼي ورولے کیدل، خلق د خپلو ځانونو د بچ کولو پهٔ فِکر کښې وو، یو اِنسان هم پهٔ طواف کولو پهٔ نظر نهٔ راتلو خو د خُدائے قُدُّوس شان ته وګورئ چې هُغه وخت هم یو اوښ پهٔ خوشحالئ سره د کعبې شریفې پهٔ طواف کولو کښې مصروفه وو۔ (1)

اَللہُ اَکْبَر! د کعبې شریفې څومره ځانګړے شان دے چې اللہ پاک د خلقو زړونه دې طرف ته مائل کړي دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دُنیا د ګوټ ګوټ نه خلق پیسې لګوي او د سفر مشکلات برداشت کوي او دلته راځي او د کعبې شریفې د طواف کولو سعادت حاصلوي او څومره داسې خلق شته چې حاضریدے نشي خو د کعبې شریفې د یو نظر لیدو د پاره کړیږي۔

بڑا حج پہ آنے کو جی چاہتا ہے | بُلاوا اب آئے گا کب یااِلٰہی!
مَیں مکّے میں آؤں مدینے میں آؤں | بنا کوئی ایسا سَبب یااِلٰہی! (2)

## (2): کعبه شریفه د اَمن ځائے دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د کعبې شریفې دویم اهم خاصیت دا دے چې اللہ پاک د کعبې شریفې او د دې نه ګیر چاپیره حرمِ پاک د امن ځائے جوړ کړے دے۔ **علمائے کرام فرمائي:** کوم اِنسان چې کعبې شریفې (یا د حرم حدونو) ته داخِل شي، د هغهٔ پهٔ اَمن کښې

---

1... شفاء الغرام، الباب الثالث عشر فی الآیات المتعلقة بالکعبة، جلد:1، صفحه:354 خلاصةً۔

2... وسائلِ بخشش، صفحه:106۔

د راتلو مختلفو شكلونه دي: (1): يو شكل خو دا دے چې كوم خوش قِسمته د نيكئ پهٔ نيت سره د حج يا د عمرې كولو د پاره حرمِ پاک ته ورسيږي، هغه به د قيامت پهٔ ورځ د عذاب نه پهٔ اَمن كښې وي۔[1] پهٔ حديثِ پاک كښې دي: سركارِ عالي وقار، مكي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې حرمِ پاک ته راشي، هغهٔ ته نيكئ ميلاؤيږي، د هغهٔ ګناهونه لرې كولے شي او هغه بخښلے كيږي۔[2]

## وور پرې بالكل اَثر اونكړو

قاضي عياض مالكي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ شِفَا شريف كښې ليكلي دي: يو ځل د سَعدُون خَولاني خوا له ځيني خلق راغلل او وه يې وئيل چې فلانكئ قبيلې يو ګس ووژلو، بيا يې د هغهٔ مړي ته وور ولګولو خو د حيرانتيا خبره وه چې د شپې ناوخته پورې د هغهٔ وجود پهٔ وور كښې وو خو د هغې باوجود پهٔ هغهٔ باندې وور هيڅ اَثر اونكړو، د دې پورې چې د هغهٔ سپين رنګ پهٔ وور كښې د سوزيدو نه پس هم هُغه شان وو۔ سَعدُون خَولاني چې دا خبره واوريده نو وه يې وئيل: هُغه مړ شوي ګس به درې حجونه كړي وي؟ خلقو ووئيل: آؤ! هغهٔ درې حجونه كړي وو۔ پهٔ دې باندې سَعدُون خَولاني ووئيل: ما ته دا خبره رارسيدلې ده چې كوم اِنسان يو حج اوكړي، هغهٔ خپل فرض ادا كړو، چا چې دويم حج اوكړو، هغه د الله پاک پهٔ دربار كښې قرض پيش كړو او چا چې درې حجونه اوكړل الله

---

[1] …تفسير نعيمى، پاره:1، سورهٔ بقره، زير آيت:125، جلد:1، صفحه:708 و 709 خلاصةً۔

[2] …ابن خزيمه، كتاب المناسک، باب استحباب دخول الكعبة…الخ، صفحه:681، صفحه:3013۔

پاک د هغهٔ وجود او پهٔ وجود باندې راتوکیدلي ویښتهٔ پهٔ دوزخ باندې حرام فرمائي- (1)

| | |
|---|---|
| میں مکّے میں پھر آ گیا یااِلٰہی! | کرم کا ترے شکریہ یااِلٰہی! |
| نہ کر رَدّ کوئی التجا یااِلٰہی! | ہو مَقبول ہر اِک دُعا یااِلٰہی!(2) |

## (2): د مقامِ ابراهیم فضیلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پهٔ آیت مبارک کښې دویمه اهمه خبره د کومې چې مونږ ته حکم راکړے شو، هغه ده: د مقامِ اِبراهیم عظمت- الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ<br>(پاره: 1، سورهٔ البقرة: 125) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او (اے مسلمانانو!) تاسو د اِبراهیم د ودریدلو ځائے د نـمانځهٔ مقام جوړ کړئ- |

پهٔ بُخاري او مسلم وغیره د حدیثِ پاک پهٔ معتبرو کتابونو کښې روایت دے چې د آیت مبارک دا حصه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ مُوافقت کښې نازله شوې- (3)
حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما لاس ونیولو او یو طرف ته یې بوتلم، یو ځائے ته چې لاړو نوو یې فرمائیل: اے عمره! دا مقامِ اِبراهیم دے- ما عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! آیا مونږ دا خپله مُصَلّٰی یعني

---

[1] ...کتاب الشفا، الجز الثانی، الباب الرابع، فصل فیما یلزم من دخل...الخ، صفحه:80-

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحه:106-

[3] ...بخاری، کتاب التفسیر، باب قوله (وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى)، صفحه:1112، حدیث:4483-

د نـمونځ ځائے نۀ جوړوو؟- وه یـې فرمائیل: اوس لا د دې حُکم نۀ دے راغلے-

فرمائي: لا ماښام شوے نۀ وو چې الله پاک دا آیت نازل کړو او وه یـې فرمائیل: مقامِ اِبراهیم مُصَلّٰی جوړه کړه---!! (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے د اِسلام مزاج---!! دلته وړومبے خو د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ د شان او د عظمت اندازه ولګوئ چې هغوئي خپله یوه رائے پیش کړه او الله پاک د هغوئي د رائے مطابق پۀ قرآنِ کریم کښې آیت نازل کړو-

دا صرف یو آیت مبارک نۀ دے بلکې د قرآنِ کریم ټول 20 یا د دې نه هم زیات آیتونه دي کوم چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ د رائے مطابق نازل شوي، دې **ته** **مَوَافقاتِ عمر** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ وئیلے شي-

| | |
|---|---|
| ملی تائیدِ خدا، تائیدِ حبیبِ خدا | مل گئی تائیدِ اَصحابِ خَیرُ الْوَرٰی |
| دیا حق نے ان کا ساتھ ہے | فاروقِ اعظم کی کیا بات ہے |
| پیکرِ صدق و صفا ان کے | حق میں رسولِ خدا کی دُعا |
| جب بھی کچھ کہے حق تیرے ساتھ ہے | فاروقِ اعظم کی کیا بات ہے |

## مقامِ اِبراهیم څۀ دې؟

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** الله پاک فرمائي:

---

1... تفسیر نسفی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:125، جلد:1، صفحہ:128۔

وَ اتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ

(پارہ: 1، سورۃ البقرۃ: 125)

[مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: او (اے مسلمانانو!) تاسو د اِبراهیم د ودریدلو ځائے د نـمانځه مقام جوړ کړئ۔

دا مقامِ اِبراهیم څۀ دي؟ دا يو کاڼے دے، **پۀ روايت کښې دي**: د خانۀ کعبې د جوړولو پۀ وخت چې کله ديوالونه د سر نه اوچت شول نو حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ته د داسې کاڼي د راوړو وفرمائل چې پۀ باندې ودريدل کيدے شي چې د ابادۍ کار پرې اوکړے شي، نو هغوي عَلَيْهِ السَّلَام نزدې موجود د دُنيا وړومبني غر اَبُو قُبَيس طرف ته تشريف يوړلو، پۀ لاره کښې حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام ميلاؤ شو او اَبُو قُبَيس کښې موجود دوه مبارک کاڼي يـې ورته وښودل، دا کاڼي د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام سره د جَنَّت نه دُنيا ته راغلي وو خو حضرت اِدريس عَلَيْهِ السَّلَام د طوفانِ نُوح د ويرې نه دا پۀ دې غر کښې پټ کړي وو۔ حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو چې دا يو کاڼے پۀ خانۀ کعبه کښې ولګوئ او پۀ دې بل کاڼي باندې ودريږئ تعميراتي کار پرې کوئ، نو کوم کاڼے چې پۀ خانۀ کعبه کښې ولګولے شو هغۀ ته حجرِ اَسود وئيلے شي او پۀ کوم کاڼي باندې چې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ودريدو او د ودانۍ کار يـې پرې اوکړو هغۀ ته مقامِ اِبراهيم (د اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د ودريدو ځائے) وئيلے شي۔ (1)

◈ دا کاڼے د خانۀ کعبې نه تقريباً 13.25 ميټره لرې د مشرق طرف ته جلوه ګر دے۔ پۀ دې باندې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د ښپو نخښې د اوسه پورې موجودې دي ◈ پۀ کاڼي

[1] …تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:125، جلد:1، صفحہ:713۔

باندې د هر قدم اوږد والے 22 سينټي ميټره او پلن والے 11 سينټي ميټره دے او د يو قدم ژور والے 10 سينټي ميټره او د بَل 9 سينټي ميټره دے ◈ په 20 صدئ عيسوئ کښې دا کاڼے د سپينو زرو په صندوق کښې کيښودے شوے وو او بره د يو ګنبد په شان د 18 مربع ميټره يوه کمره جوړه کړے شوې وه، دا کمره به په طواف کښې خنډ [يعني رکاوټ] جوړيده ځکه د دې په ځائے د شيشې يو خول جوړ کړے شو، کاڼے په ښکلي کرِسټل کښې کيښودے شو او خواؤ شا ته پرې د سرو زرو اوبه واچولے شوې او جالئ پرې ولګولے شوه، بهر 10 ملي ميټره داسې شيشه ولګولے شوه کومه چې د ***Bullet Proof*** کيدو سره سره ***Heat Proof*** هم ده- ◈ خوش قِسمته خلق نن هم د دې مبارک کاڼي زيارت کوي-

## د مبارک کاڼي 3 ځل سعادت نصيب شو

**په کتابونو کښې ليکلے شوي دي**: چې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام درې کرته په دې مبارک کاڼي باندې ودريدو **(1)**: يو ځل هغوئي د خپل شهزاده حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام سره د ميلاؤيدو د پاره د شام نه مکے مکرمې ته تشريف راوړلو، هُغه وخت حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په کور کښې موجود نۀ وو، د هغوئي بي بي محترمې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام اَدب اوکړو، يو کاڼے يې راوړلو او کيښودو يې او اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په هغې باندې ودريدو-[1] **(2)**: په دويم ځل چې کله حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام کعبه شريفه جوړوله، ديوالونه چې کله لوړ شول نو حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په کاڼي باندې ودريدو، د دې برکتي کاڼي دا شان وو چې څنګه څنګه به ديوالونه اوچتيدل نو دا کاڼے به هم بره کيدو، بيا به چې کله حضرت

---

[1]... تفسير نظم الدرر، پاره:1، سورۂ بقرة، زير آيت:125، جلد:1، صفحه:239 و 240 خلاصةً-

اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام راکوزيدو نو دا به ښکته کيدلو (3): کله چې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د کعبې وداني مکمله کړه نو رَبِّ کريم وفرمائيل: اے اِبراهيمه! پۀ خلقو کښې د حج اِعلان اوکړئ! نو حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ هُغه مبارک کاڼي باندې ودريدلو او اِعلان يې اوکړو،[1] پۀ روايتونو کښې دي: دا اِعلان د قيامت پورې راتلونکو واوريدو، چا چا چې لَبَّيک ووئيلو، هغه د حج سعادت مومي، چا چې يو ځل لَبَّيک ووئيلو، هغه يو ځل حج کوي، چا چې زيات ځل لَبَّيک ووئيلو، هغه زيات ځل حج کوي۔ [2]

هو مجھ پہ کرم صدقے میں سُلطان دَنیٰ کے | دِکھلَا دے مناظِر مجھے عرفات و مِنیٰ کے
کہتا تھا پھر اللہ مجھے حج پہ بلانا | اے عازِمِ طیبہ! میں طلبگار دعا ہوں

## د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام قبله

حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کوم چې صحابیِ رسول دے، هغوئي فرمائي: حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دا مبارک کاڼے (يعني مقامِ اِبراهيم) د قبلې پۀ توګه د کعبې شريفې سره پۀ خوا کښې کيښودو، هغوئي به دې طرف ته مخ کولو او نمونځ به يې ادا کولو۔ [3]

## مقامِ اِبراهيم جنتي کاڼے دے

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اَلرُّكْنُ وَالْمَقَامُ مِنْ يَاقُوْتِ الْجَنَّةِ يعنې حجرِ اَسود او مقامِ اِبراهيم

---

[1]... تفسير روح المعانی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:125، جلد:1، صفحہ:516 خلاصةً۔

[2]... تفسير درمنثور، پارہ:17، سورۂ حج، زیر آیت:24، جلد:6، صفحہ:33۔

[3]... فضائلِ حجر اسود و مقام ابراہیم، صفحہ:181۔

جنتي ياقوت دي- وَلَوْلَا مَا مَسَّهُمَا مِنْ خَطَايَا بَنِىْ آدَمَ لَاَضَاءَا مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَ الْمَغْرِبِ او كه د اِنسانانو خطاګاني دي ته نۀ رسيدلې نو د دې پۀ رڼا سره به مشرق او مغرب روښانه کيدل- (1)

## مقامِ اِبراهيم يــې پۀ غيبره کښې ونيولو

د صحابيِ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما نه روايت دے: کله چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام زمکې ته تشريف راوړلو نو الله پاک د هغوئي سره 2 جنتي کاڼي (حجرِ اَسود او مقامِ اِبراهيم) هم زمکې ته راکوز کړي وو- هُغه وخت دا کاڼي ډير پرقيدونکي وو، حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام چې دا وليدل نو دا يــې وپيژندل او دا يــې ځان ته راجُخت کړل او اُنس (يعني مينه او سکون) يــې حاصل کړو- (2)

## مقامِ اِبراهيم د قبليدو ځائے دے

اِمامِ حَسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مقامِ اِبراهيم د قبليدو پۀ مقاماتو يو مقام دے، د دې پۀ خوا کښې چې کومه دُعا اوکړے شي، الله پاک يــې قبلوي- (3)

## د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام دُعا قبوله شوه

د روايتونو مطابق حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام چې کومه توبه وکړه او د الله پاک پۀ دربار کښې

---

[1]... سنن الکبریٰ لامام بیهقی، کتاب الحج، باب ما ورد فی الحجر الاسود والمقام، جلد:5، صفحه:204، حدیث:9229۔

[2]... تفسير درمنثور، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:127، جلد:1، صفحه:325 ملتقطًا۔

[3]... اخبار مکه للفاکهی، ذکر المقام بمکة...الخ، جلد:2، صفحه:291، رقم:1545۔

قبوله شوه، هُغه دُعا هغوئي پهٔ هُغه ځائے کښې کړې وه چرته چې اوس مقامِ اِبراهيم دے۔ الله پاک وفرمائيل: يَا آدَمُ! اِنَّكَ دَعَوْتَنِيْ بِدُعَاءٍ اِسْتَجَبْتُ لَكَ فِيْهِ يعنې اے آدم عَلَيْهِ السَّلَام ! تاسو چې کومه دُعا کړې ده، زهٔ هغه قبلووم۔ (1)

## مقامِ اِبراهيم شِفا ورکوونکے دے

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه پهٔ روايت کړے شوي **حديثِ پاک** کښې دي: لَوْلَا مَا مَسَّهَا مِنْ اَهْلِ الشِّرْكِ مَا مَسَّهَا ذُوْعَاهَةٍ اِلَّا شَفَاهُ اللهُ يعنې که مشرکان د دې مُبارک کاڼي (يعنې مقامِ اِبراهيم) سره نهٔ وو لګيدلي نو چې کوم مريض هم دې سر لګيدو، الله پاک به هغهٔ ته شِفا عطا کوله۔ (2)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د دې مبارک کاڼي شان ته وګورئ چې پهٔ وئيلو خو دا يو کاڼے دے، پهٔ دې دُنيا کښې خو کاڼي پهٔ زرګونو، پهٔ لکونو بلکې پهٔ کروړونو موجود دي خو مقامِ اِبراهيم هُغه برکتي کاڼے دے، د کوم چې د الله پاک د نبي حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره نسبت دے، بس هم دې نسبت دا کاڼے دومره عظيم جوړ کړو چې دا د کاڼي کيدو باوجود شِفا ورکوونکے هم شو او د دې خوا ته دعاګانې هم قبليږي۔

اوس د دې ځائے نه غور اوکړئ چې کله د اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره نسبت لرونکے کاڼے شِفا ورکوونکے کيدے شي، د دې خوا ته دعاګانې قبليږي ◈ نو د اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د آقا، اِمامُ الانبيا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د نسبت لرونکي د مدينے منورې خاوره څنګه خاکِ شِفا

---

1... تاريخ ابن عساكر، رقم:578، آدم نبى الله يكنى ابا محمد ويقال ابو لبشر، جلد:7، صفحه:428۔

2... اخبار مكه للفاكهى، ذكر المقام وفضله، جلد:1، صفحه:443، رقم:967۔

نشي کيدے --!! چې يو ځاے شفا ورکوونکے کيدے شي، مُشکل کُشا کيدے شي نو د اِمامُ الانبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه لوستونکي، اَشرفُ المَخلوقات اِنسانان، ډير بزرګان بندګان يعنې اوليائے کرام څنګه شِفا ورکوونکي نشي کيدے ◈ چې د يو ځاې سره د لاس لګولو سره شِفا ميلاؤيدے شي ◈ نو د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ دم فرمائيلو ◈ د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ لاس لګولو سره ◈ د خواجه حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ کرم فرمائيلو سره ◈ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ شان د عظيم وَلِيُّ الله پۀ نظر سره شِفا څنګه نشي ميلاؤيدے، د هغوئي خوا ته، د هغوئي د مزارونو سره به دعاګانې ولې نۀ قبليږي؟ يقيناً چې شِفا ورکوونکے ذات هم د الله پاک دے، دُعاګانې هم الله پاک اوري او قبلوي يې خو لکه څنګه چې دا ځاے يعنې مقامِ اِبراهيم د شِفا ذريعه او د قبليدو وسيله دهٔ، هم داسې د صحابۀ کرامو عَليهمُ الرِّضوَان ، د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم او د هغوئي تبرکات هم د شِفا ميلاؤيدو، د مشکلاتو د لرې کيدو او د دعاګانو د قبليدو وسيلې دي- مولانا حَسَن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان بيان کړے دے او ليکلي يې دي:

جن و اِنسان و مَلک کو ہے بھروسا تیرا | سرورا مَرْجِع کل ہے دَرِ والا تیرا
اچھے اچھے ہیں ترے در کی گدائی کرتے | اُونچے اُونچوں میں بٹا کرتا ہے صدقہ تیرا
بھیک بے مانگے فقیروں کو جہاں ملتی ہو | دونوں عالَم میں وہ دروازہ ہے کس کا تیرا[1]

---

[1]... ذوقِ نعت، صفحه:2523 ملتقطًا۔

وضاحت: اے مکي مَدَني آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو اِنسانانو، پيريانو او فرښتو پۀ تاسو باندې باور دے، ستاسو دَر د ټولو د پاره د ورکړځيدو ځائے او اُميد دے، پۀ دُنيا کښې د لوئي لوئي مرتبو والا خلق د دې دَر سوالګري دي، هم ستاسو صدقه پۀ جهان کښې تقسيميږي او ستاسو دَر مبارک خو داسې دَر دے چرته چې غوښتونکو ته بغير د غوښتو نه ميلاؤيږي، آيا پۀ دُنيا کښې داسې دروازه شته چرته چې بغير د غوښتو نه ميلاؤ شي، نا--!! هيڅ چرته نشته-

## مقامِ اِبراهيم د سجدې بهترين ځائے دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اللّٰه پاک د مقامِ اِبراهيم د مُصَلّٰى جوړولو حُکم اوکړو، د دې مطلب دا دے چې نـمونځ پۀ داسې ځائے کښې کوئ! چرته چې مقامِ اِبراهيم ستاسو او د کعبې شريفې ترمينځه اوسي- حضرت عبد اللّٰه بن عَمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: خَيْرُ الْمَسْجِدِ خَلْفَ الْمَقَامِ وَعَنْ يَمِيْنِ الْاِمَامِ يعنې د سجدې کولو د پاره دوه ځايونه بهترين دي: (1): د مقامِ ابراهيم شاته ځائے (2): د اِمام ښي اړخ ته ځائے-[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اوس دلته غور اوکړئ چې پۀ کوم انداز اللّٰه پاک د مقامِ اِبراهيم د مُصَلّٰى جوړولو حُکم کړے دے، آيا څوک سوچ کولے شي چې مقامِ اِبراهيم بالکل مخې ته وي او اِنسان د دې طرف ته مخ کوي او نـمونځ کوي او د هغۀ پۀ زړۀ کښې د مقامِ اِبراهيم نه نفرت هم موجود وي--؟ نا--! نا--!! هيڅکله نا- اِنسان چې

---

[1]...اخبارِ مکه للفاکهي، ذکر الصلاة خلف المقام...الخ، جلد:1، صفحه:466، رقم:1027-

کله هم د مقامِ اِبراهيم طرف ته مخ کوي او نـمونځ کوي، يقيناً چې د هغۀ پۀ زړۀ کښې به د دې مبارک کاڼي تعظيم هم وي-

دا د پوهې خبره ده، عين د نـمونځ پۀ حالت کښې چې د يو کاڼي تعظيم پۀ زړۀ کښې موجود وي نو پۀ نـمونځ کښې هيڅ کمے نۀ راځي بلکې وفرمائيلے شو چې د سجدې کولو بهترين ځائے هم دا دے چې اِنسان نـمونځ کوي، مقامِ اِبراهيم مخې ته وي او اِنسان د رَبّ پۀ دربار کښې سجده کوي- يعنې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره د نسبت لرونکي د دې کاڼي تعظيم پۀ زړۀ کښې وي نو نـمونځ نۀ خرابيږي بلکې کامِل کيږي نو غور اوکړئ چې د کاڼي د تعظيم دا برکت دے نو هُغه عظيم خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د چا پۀ دربار کښې چې به کاڼو سلامونه پيش کول، د چا د تعظيم د پاره چې به کعبه راښکته کيدله، د هُغه عظيم آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعظيم چې پۀ زړۀ کښې وي نو بيا پۀ نـمونځ کښې څنګه خنډ [يعني رکاوټ] راتلے شي- يقيناً چې هُغه نـمونځ ډير کامِل وي پۀ کوم کښې چې د الله پاک د عبادت سره سره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعظيم خيال هم پۀ زړۀ کښې موجود وي- چا عاشقِ رسول څۀ ښه وئيلي دي:

کیا کرم کِیَا تیری یاد نے، مجھے آ جگایا نماز میں
میرے وہ بھی سجدے ادا ہوئے، جو قضا ہوئے تھے نماز میں

**وضاحت:** يعنې يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زۀ د نـمونځ د پاره ودريدلے خو ووم خو پۀ زړۀ باندې غفلت راخور وو، زما وجود خو پۀ نـمونځ کښې وو خو زړۀ مې د دُنيا پۀ

کارونو کښې مشغول وو، بيا کرم وشو، عين د نـمونځ پۀ حالت کښې ستاسو ياد راغلو، ستاسو ياد زۀ د غفلت د خوب نه رابيدار کړم، بيا داسې کمالي سجدې ادا شوې چې مخکښې کومې سجدې پۀ غفلت کښې شوې وې، د هغې کمے هم پوره شو--!!

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې مونږ ته د داسې نـمونځ کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْنْ بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شپې کول عبادتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ ته حکم اوکړے شو چې مقامِ اِبراهيم خپله مُصَلّٰي جوړه کړئ! الله پاک دې توفيق راعطا کړي، ضرور کوشش کول پکار دي چې د مقامِ اِبراهيم شاته ځائے ميلاؤ شي او که ډير نۀ وي نو کم از کم مونږ هم پۀ 2 رکعتونو کولو کښې کامياب شو- د طواف چې کوم دوه نفلونه وي، هغه او د هغې نه علاوه هر نـمونځ د مقامِ اِبراهيم شاته ادا کول يعنې داسې ودريدل چې مقامِ اِبراهيم د اِنسان او د کعبې ترمينځه راشي، دا مُستحب دي- زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خو کرته پۀ دې ځائے کښې ودريدلو او نـمونځ به يې ادا کولو- د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پۀ باره کښې راځي چې هغوئي به پۀ دې ځائے کښې ودريدلو او ټوله ټوله شپه به يې نـمونځ ادا کولو او روزانه به يې پۀ يو رکعت کښې د ټول قرآنِ پاک تِلاوت فرمائيلو- (1)

[1]... دين و دنيا کی انوکھی باتيں، صفحه:22-

الله پاک دې مونږ ته هم توفيق راعطا کړي- دا يو اِحتياط په ذِهن کښې ضرور ساتئ چې نن سبا په طواف کښې ډيره ګڼه وي، که په ګڼه کښې دغلته ودريږئ او نـمونځ شروع کړئ نو طواف کوونکو ته به هم ګرانه وي او پخپله هم د سختئ سره مخ کيدے شئ، د هُغه ځائے خادمان هم بعضې وخت خنډ [يعنې رکاوټ] جوړيږي- که داسې څۀ حالت پيدا شي نو د مطاف د کرښې نه بهر ووځئ او چرته چې عام طور د نـمونځ کوونکو د پاره چې کوم صفونه جوړ شوي وي، په هُغه صفونو کښې په داسې ځائے کښې نـمونځ اوکړئ چې مقامِ اِبراهيم ستاسو مخې ته وي- الله پاک دې مونږ ته هر کال د حج او د عمرې سعادت راعطا کړي- اٰمِيۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## قرباني کليکشن موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د عِلمِ دِين د فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرباني کليکشن (***Qurbani Collection***) ◈ تاسو د دې ايپلي کيشن په مرسته د لوئي اختر د پاره د دعوتِ اِسلامي لاندې خپله قرباني آن لائن بُک (***Online book***) کولے شئ ◈ قرباني د شريعت او د سُنَّت مطابق د کولو د پاره د قربانۍ په موضوع باندې د دار الافتاء اهلسُنَّت فتوې لوستلے شئ او د دار الافتاء اهلسُنَّت د مفتيانو صاحبانو سره په مشوره کولو دا خبره يقيني کولے شئ چې ستاسو قرباني په سُنَّت طريقه وي ◈ د قربانۍ په موضوع باندې د اِسلامي سکالرانو ليکلے شوي ډير معلوماتي کتابونه لوستلے شئ ◈ دا

اېپلي کېشن د قربانۍ کولو د پاره د ګائيډ په توګه استعمالولے شئ ◈ دې نه تاسو د قربانۍ بنيادي تقاضې زده کولے شئ لکه د قربانۍ نيت، دُعا، طريقه او ډېر څهٔ ◈ نور د مدني عالمانو معلوماتي ويډيوز او آډيو کلپس اوريدے او کتلے شئ ◈ او د قربانۍ په باره کښې ويډيوز محفوظ کولے شئ- تاسو هم په خپل موبائل کښې دا اېپلي کېشن انسټال کړئ! د دې نه فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

د بيان په اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څهٔ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** آيا يوه قُرباني د ټول کور والؤ د طرف نه کافي ده؟

**وضاحت:** دا يو غلط انداز په بعضې ځايونو کښې موندلے کيږې چې خلق د خپلو خپلو مالونو حِساب خو عام طور نهٔ کوي د چې پته ولګي چې په کور کښې څوک څوک صاحب د نصاب دے- بيا هم يو ګاروے واخستے شي او په ټول خاندان کښې هم يوه قُرباني بعضې وخت کيږي- دا غلط انداز دے- ياد ساتئ چې قُرباني په هر صاحبِ نصاب باندې بيله بيله واجِب ده- مثلاً په يو کور کښې 4 ورونه دي، څلور واړه صاحبِ نصاب دي، مور او پلار دي، هغوئي هم بيل صاحبِ نصاب دي نو اوس په دې خاندان کښې ټول 10 کسان صاحبِ نصاب شول ، په دې ټولو باندې بيله بيله قُرباني واجِب ده،لهٰذا دوئي

به 10 قُرباني کوي ◈ بيا که 10 چيلي اخلي او قُرباني کوي يې او ◈ که په غټو څاروو کښې 10 حصې اخلي- قُربانيانې به هم 10 کول وي- (1) دا مو صرف يو مثال عرض کړو، په کور کښې که چرته په څلورو کسانو باندې قُرباني واجِب ده نو 4 به کول وي، که په 2 باندې واجِب ده نو 2، که په يو باندې واجب ده نو يوه به کول وي- عَلٰى هٰذَ الْقِيَاس (يعني هر يو دې د دې مطابق په خپل حال باندې غور اوکړي)-

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنىٰ برکتونه (وظيفه)

### يَا مَالِكَ الْمُلْكِ (اے د مُلک مالِکه!)

څوک چې يَا مَالِكَ الْمُلْكِ ښه ډير لولي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! خوشحاله به وي- (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... فتاویٰ اہلسنت، غیر مطبوعہ، فتوی نمبر: Aqs1861 خلاصۃً۔

[2]... مدنی پنج سورہ، صفحہ:257۔